# The Romantic poetry of Saif ur Rahman Saleem

# د سيف الرحمان رومانوي شاعري يو څېړنيز جاج

Dr .Nasrullah Khan[1]

Mr. Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai[2]

**Abstract:**

The romanticism is the symbol of change, nature and reality - When a person feels bothered in the society he wants change and wishes to change the circumstances which may cause the bothered situations - The poet is the eye of society and plays his vital role in bringing the changes in the society - He is the only one symbol of hope and light in the darkness of the society - When the romanticism was started the situations were totally different for the common person in the society - The ray of light was broke out here in India and Pakistan - The poets of the Pakistan were also accepted the change of thoughts and views - They also created the poems and poetry in the light of those thoughts - In those poets the name of Saif ur Rahman Saleem is the bright symbol of Pashto Romantics - He expressed his views in his own style - This paper is going to describe the romanticism on Saleem and a short review of romanticism in the literature -

**Keywords**: Romanticism, Symbol, Nature, Reality, Bothered, Poet, Society, Romantics, Thoughts and Expression -

که د کائنات په تخليق نظر وغورځولے شي نو معلومه به شي چې دا کائنات د ډېرو مرحلو نه تېر شوے دے - په دې کائنات کښې د وخت د تېرېدو سره سره تغير راغلے دے - دغه تغير بدلون ته لار خلاصه کړې ده، چې په نتيجه کښې ئې مذهبي، سياسي او ادبي انقلابونه راغلي دي - دغه انقلابونه په جدا وختونو کښې په جدا جدا تحريکونو اړه لري - دغه ادبي تحريکونو له بېلا بېل نومونه ورکړے شوې دي چې کلاسکيت، رومانويت، حقيقت نګاري، ترقي پسندي، جديديت او مابعدجديديت په نومونو مشهور دي - دا هم وئيلے کېږي چې د هرې ژبې په ادب کښې د دوه غټو تحريکونو کلاسکيت او رومانويت لوي لاس دے - په دغو کښې د کلاسېک خپله مخصوصه ډانچه وه چې په عقل پرستۍ، اصول پرستۍ، تقليد او اعتدال باندې ولاړه وه چې يو شمېر څېړنکار ئې پلؤيان وو، ولې بل اړخ ته دا هم يو کوټلے حقيقت دے چې ژوند د حرکت دوېم نوم دے - انسان تل بدلون غواړي او چرته هم په يو حال کښې نۀ شي پاتې کېدے نو هم د دغه بدلون په خاطر د فرانس د صنعتي انقلاب نه پس ټولنې هم د بدلون د پاره هڅې شروع کړې چې په نتيجه کښې ئې يو نوے اقتصادي، سياسي او سماجي نظام په

[1] Assistant Professor, Rahman Baba Chair Department of Pashto - ICP
[2] Lecturer in Pashto, Rahman Baba Chair Department of Pashto ICP -

وجود کښې راغلو او د کلاسېک خلاف يو بل مظبوط تحريک ته لاره هواره شوه. دغه تحريک بڼهٔ په زور شور سره نمودار شو چې د رومانويت په نامه يادېږي. دا تحريک په حقيقت کښې د کلاسکي ادبي تحريک په ردِ عمل کښې بڼهٔ په منظم ډول شروع شو چې وروسته د ټول نړيوال ادب يو لوي او فعال تحريک وګرځېدو. په انسائکلوپېډيا برېټانيکا مخ ۶۵۳ کښې د رومانويت معني داسې شوې ده چې" رومان ROMANCE د زړې فرانسيسۍ ژبې ROMANZ څخه اخذ دے چې مطلب ئې د عام خلقو خبرې دي"

محمد صديق روهي د رومانتسېزم په حقله ليکي

" رومانتسېزم نوم د رومانتيک (ROMANTIC) له صفت څخه مشتق شوے چې د رومانتيک کلمه هم د زړې فرانسوي ژبې له رومانز(ROMANZ) څخه اخيستل شوې ده چې معنٰي ئې رومان ROMANCE يا ناولNOVEL دے." [i]

يعنې رومان د عامې فرانسۍ ټکے دے چې مطلب ئې د عامو خلقو خبرې دي. رومانويت په ادب، فلسفه، هنر، مذهب او سياست کښې د پخوانو شکلونو په ضد عکس العمل بللے کېږي.

ډاکټر سيد عبدالله د رومانيت په حقله ليکي

" رومانيت کاايک ڈھيلا سا مطلب يہ ہے کہ يہ ايک ايسے اسلوب اظہار يا انداز احساس کا اظہار کرتي ہے جس ميں فکر کے مقابلے ميں تخيل کي گرفت مضبوط ہو، رسم وروايت کي تقليد سے آزادي، خيالات کو سيلاب کي طرح جدھر ان کا رخ ہو ازادي سے بہنے ديا جائے." [ii]

د رومانويت په حقله پوهانو او څېړنکارانو ډېر څهٔ وئيلي دي ولې د هر يو تعريف د بل نه جدا دے. تعريف لاڅهٔ چې د نامې په حقله ئې هم څېړنکار متفق نهٔ دي، څوک ورته رومانويت او څوک رومانيت وائې. خواجه محمد سائل د دواړو ټکو په حقله ليکي :

" مونږ رومان Romance څخه ملحق تړلے لفظ رومانويت Romanticism د رومانيت نه بيخي مختلف اخلو. رومانويت د يو تحريک نوم دے چې د اتلسمې صدۍ اخيري نيمائي برخه کښې په يورپ کښې د کلاسکيت خلاف شروع شو او لکه څنګه چې هلته يورپ کښې Romanticism د Romance نه مختلف معنٰي او مفهوم لري نو مونږ ئې هم دلته پښتو ادب کښې ځانته يو جدا "سبک" تصوّر کوو. يعنې زمونږ د کلاسيکي ادب هغه برخه چې قيصصي انداز لري او د مينې محبت داستان څخه تعلق لري نو دغه خو رومان يا روماني قيصې دي چې عموماً مافوّق الفطرت هيئت لري خو څومره پورې چې د رومانويت تعلق دے نو دلته هم مونږ رومانويت د يو ادبي تحريک په حېث اخلو چې د يو باقاعده سبک په حېث د عبدالحميد بابا د رومانوي شاعرۍ نه ابتداء مومي." [iii]

په حقیقت کښې حمید بابا رومانوي هم دے او روماني هم ـ روماني په دې معنو کښې چې هغهٔ د فارسی ژبې نه دوه مثنویاني " نیرنګ عشق او شاه و ګدا" پښتو ادب ته په منثور شکل کښې ژباړلې دي کومې چې د فارسي ادب روماني قیصې دي او رومانوي په دې وجه چې هغهٔ په خپله شاعرۍ کښې د عالمي رومانوي تحریک ټول لوازمات خپل کړي دي حالانکې هغهٔ د چا نوم نهٔ دے اخستے چې د هغه نه ئې اثر اخستے دے او نهٔ ئې د کوم تحریک نوم اخستے دے ـ

هر څو که پښتو ادب کښې رومانویت د مغربي علمي ادبي تحریک نه اثر موندلے دے ولې د دې نه هم انکار نهٔ شي کېدے چې د رومانویت عناصر د پښتو په شاعرۍ کښې له پخوا نه موجود وو چې روڼ مثال ئې د خوشحال بابا دے چا چې د روایتي اقدارو نه بغاوت کړے وۀ ـ هغهٔ په پښتو کښې په وړومبي ځل د فطرت ننداري، عقل په ځاے جذبې ته رواج ورکول، په شعر کښې مستي راوستل، د یو فرد همت، مېړانه ، ننګ و غېرت او خودۍ په لړ کښې د باز او شاهین علامتونه راوړل،جمال او جلال ستائنه د خپلې شاعرۍ بنیاد ګرځولے دے چې د عالمي رومانوي تحریک بنیادي محرکات دي ـ

د رومانوي ادبي تحریک اثر په شلمه صدۍ کښې په باقاعده توګه د پښتو په جدیدو شاعرانو لکه سید رسول رسا ، اشرف مفتون، فضل حق شېدا ، عبدالغني خان، قلندر مومند ، اجمل خټک، عبدالرحیم مجذوب، مېجر یونس خلیل او سیف الرحمان سلیم شوے دے او دغه شاعرانو مخ په وړاندې بوتلے دے ـ په دغو کښې سیف الرحمان سلیم د جدید دور یو نمائنده شاعر د داودزو تپې په کلي ګلوزو کښې د خدائي خدمتګار تحریک د یو سرګرم غړي جلال شاه په کور کښې په کال ۱۹۲۹ء کښې دې فاني دنیا ته تشریف راوړے ؤ ـ هغهٔ په بنیادي توګه یو ترقي پسند ، مقصدي او انقلابي شاعر ؤ، ولې رومانوي شاعري ئې هم د اعلي پائې ده چې د عالمي رومانوي ادبي تحریک په اصولو کاربن ده ـ

د رومانوي تحریک مقصد او منشا د کلاسیکي رجحاناتو او هر رنګ قوانینو نه بغاوت کول، د مذهب او سماجي بندېزونو نه مکمله ازادي ترلاسه کول، د جذباتو اظهار کول، د تخیل او احساساتو په شدت سره نوے تصوّر پېش کول، فطرتي حسن او ننداړو سره مینه کول او په دغه فطرتي حسن کښې دلچسپي اخستل، د ماضي تر څنګه د کلیوال ژوند سره خپله رشته ټینګول، د مافوق الفطرت څیزونو ته فطري او فطري ته مافوق الفطرتي رنګ ورکول، ازاد خیالي، انا پرستي او ځان خوښي ـ د عشق و محبت ترانې وئیل او د خپل معشوق په زنګانهٔ ساه ورکول ګڼلے کېږي ـ

سلیم هم د روایت نه بغاوت کوي او خپل حقیقت په ډاګه کوي چې:

زاهـــد خپلـــې ســـترې وکـــړې خپـــل ئـــې نـــهٔ کـــړم
ســـاقي جـــان ســـره پـــه مینـــه ځـــم روان یـــم

د تـــــوبې نــــــه څــــــۀ مطلـــــب شـــــو ســـــليم جانــــــه
بيـــــا چـــــې ټـــــول عمـــــر د ځښنـــــلو پـــــه ارمـــــان يـــــم[iv]

د سليم په شاعرۍ کښې دغه رندانه رنګ غالب دے چې د هغه شاعرۍ ته ئې ځلا بخښلې ده لکه چې جذباتو ته ځان سپاري او د مذهبي رواياتو هيڅ پروا نۀ کوي وائي چې:

مېکـــــده کښـــــې لاڅــــــۀ بـــــل رنګـــــه قـــــانون دے
چـــــې ګنـــــاه دلتـــــه څـــــوک نـــــۀ کـــــړي نـــــو ګنـــــاه ده[v]

او يا دا لکه چې:

نــــــن خـــــو مـــــې بيـــــا د زړۀ رضـــــا وکـــــړه
مـــــا پـــــه تـــــوبې پـــــورې خنـــــدا وکـــــړه
بويـــــه ســـــبا پـــــورې بيـــــا څـــــۀ پېښـــــېږي
راځــــــه يـــــو څـــــو ګوتونـــــه بيـــــا وکـــــړه[vi]

د سليم په شاهرۍ کښې که يو پلؤ تخيل، خلوص، جوش و جذبه، وفا، وصال، صداقت، حسن پرستي، فطرت پسندي، کليوال رنګونه، منظر کشي او خود پسندي غوندې خصوصيات ( چې د رومانوي شاعرۍ بنيادي اجزا دي) موجود دي نو بل اړخ ته په کښې د جانان بې روخي، ظلم و ستم، صبر و برداشت، جفا، هجر و فراق وغېره هم تر سترګو کېږي. د دې نه علاوه که يو طرفته د سليم په شاعرۍ کښې د زاهد، واعظ، ناصح، شېخ، ملا، رند، ساقي او مېخانې مضامين هم ډېر په ښکلې پېرايه کښې پيئلے شوي دي، نو بل طرفته په کښې د محبوب د مختلفو اندامونو لکه سرې شونډې، شنه خالونه، تورې ګورې زلفې، سپورې څنې وغېره هم په ډېر ښۀ انداز کښې بر محل بيان شوي دي.

د سليم په رومانوي شاعرۍ کښې منظر کشي يا محاکات نګاري ډېره په ښکلې رنګ کښې پېش شوې ده. کوم منظر چې ئې د کوم مقصد او تأثر د پاره بيان کړے دے هم هغۀ تأثر په لوستونکو باندې طاري کوي. لکه چې په روماني انداز کښې خپل محبوب ته ګويا کېږي چې:

زلفـــــې خـــــورې کـــــړه مـــــا لـــــه خـــــوب راځـــــي
تـــــورې تيـــــارې کـــــړه مـــــا لـــــه خـــــوب راځـــــي

پـــــائلې دې اوباســـــه ګجـــــرې مـــــاتې کـــــړه
دا ډيـــــوې مـــــړې کـــــړه مـــــا لـــــه خـــــوب راځـــــي

ستا د خوږو خوږو ورمو لوپټې
په ما خورې کړه ما له خوب راځي[vii]

سلیم د منظر کشۍ داسې ماهر استاذ ؤ چې څنګه ئې یو څیز په زړۀ ښۀ لګېدلے دے یا ترې متاثره شوے دے نو هم هغه رنګ نقشه ئې ورله په شعر کښې مجسّم کړې ده لکه چې هم په دغه غزل کښې وړاندې وائي:

د رقیب ذکر باندې مه سېزه ما
ژبه دې پرې کړه ما له خوب راځي
چې مې ګیله د شونډو پاتې نۀ شي
دا هم اودې کړه ما له خوب راځي[viii]

سلیم د منظر کشۍ استاذ شاعر ؤ ـ د هغه د شعر په اورېدو یا لوستو سره اورېدونکي یا لوستونکي ته مجسم منظر ښکاره کېږي لکه چې د محبوب دّ شونډو انداز بیانوي چې:

لکه مم چې ماشومان په خلۀ کښې ژوي
څۀ اندار دے ستا د شونډو د ژولو[ix]

او یا لکه دا شعر چې د منظر کشۍ اعلیٰ مثال دے چې:

تۀ یې، تنهایي ده، ستا د مینې ګرمه غېږه ده
ولې راته وائې چې اودۀ شه نور څۀ مه وایه[x]

د سلیم په شاعرۍ کښې کلیوال رنګونه په کلیواله ژبه کښې بیان شوي دي ـ د کلیوال ژوند ساده روزمره ټکي ئې په داسې روماني انداز کښې پکار کړي دي چې هڅو کلیوال نۀ ښکاري ـ لکه ډاډه ساتل، غولېدل، راغاړه ایستل، لؤظونه، څنځول، کوزړۍ او داسې نور بلها کلیوال ټکي دي چې د هغۀ د شاعرۍ خوند ئې سېوا کړے دے لکه چې وائي:

ستا د راتلو لؤظونه ښۀ دي چې ډاډه مې ساتي
ستا په لؤظونو چې غولېږم څان له زړۀ ښۀ کووم

تۀ که را نۀ غلې ستا خیالونه مې راغاړه ایستل
زۀ چې یواځې یم ویېږم څان له زړۀ ښۀ کووم[xi]

او يا دا شعر چې کليوال هم دے او منظر کشي په کښې هم ده:

نــــــهٔ کـــــــوزړې شـــــته او نـــــــهٔ جــــــام پـــــــروت دے
ســــــاقي اودهٔ ســــــم پـــــــه مابښــــــام پـــــــروت دے
راشـــــــــه ســـــــاقي! کـــــــــوزه راوځنځـــــــــوه
ماتــــــه خـــــالي پــــــه مخکښـــــې جـــــام پـــــروت دےxii

د سليم په شاعرۍ کښې د فطرت رنګونه او ننداري غورځنګونه وهي. فطرت پرستي د رومانوي شاعرۍ په زړهٔ پورې عنصر دے. مغربي شاعر ورډزورتھ د فطرت پرستۍ بابائې ادم ؤ. هغهٔ په فطرت مئين ؤ او د فطرتي حسن کردارونه ئې هم مثالي وو. د هغهٔ په نظمونو کښې ساده زميندار، شپونکے، د کلي ساده باده خلق د فطرتي ژوند عکاسي کوي. دغه رنګ سليم هم يو فطرت پرست ؤ په خپله خاوره، سيمه، سيندونو او عام اولس مئين ؤ. لکه چې د خپلې سيمې سره خپله لاڙواله مينه ښکاره کوي چې:

د راوي جــــــــل پـــــــرۍ ځـــــــهٔ بانــــــدي نــــــــازېږي
زهٔ پخپلــــــــــه شـــــــــهزاده د اباســــــــين يــــــــمxiii

بل شعر دے:

د راوي تنــــــدے دي ولـــــــې راتــــــــه تريـــــــو شــــــي
کــــــه مئــــــين زهٔ پـــــــه شـــــــالم او ســــــردرياب يـــــمxiv

دغه شان هغهٔ د فطرت نندارې هم د خپل رومانوي قلم څوکې ته سپارلې دي لکه چې وائي:

ځــــــــواني ده حســــــــن دے ســــــــرور ځــــــــانګي
پــــــټ پــــــه دانـــــــو کښـــــې د انګــــــور ځــــــانګي
شــــــــي زلزلـــــــــه دواړه جهانــــــــــه خــــــــوزي
ســـــــتا پــــــه غوږونــــــو کښـــــې چــــې در ځــــــانګي
د جنــــــــت حـــــــوري دي جـــــــوتې ورکــــــــوي
ناســـــــته پـــــــه تــــــال د حــــــوا لــــــور ځــــــانګي
خـــــــدائې دې د زلفــــــو ځـــــــانګې تانـــــــدي لـــــــره
دا چـــــې پـــــه مــــــا غونــــدې رنځـــــور ځــــانګيxv

سلیم د خپل فطرتي ذوق په آس د چمن سېل کوي. هغهٔ ته د چمن په هر بوټي کښې خپل محبوب ننداره کېږي کله ورته د ګل په شکل کښې او کله د ازغي په شکل کښې. لکه چې وائي:

بيـــا چمـــن کښـــې ســـرهٔ ګلونـــه، پټـــې پټـــې مشـــورې کـــړي
بـس يـو سـترګې پـرې پـوهېږي، چـې پـه سـترګو سـوال جـواب دے
زهٔ ماليــــار يمه،عاشـــق يـــم، د چمـــن پـــه پاڼـــه
کـه سـنبل دے، کـه رېحـان دے، کـه ششـتي دے، کـه ګـلاب دے
تـــهٔ پـــه حســـن لاثـــاني يـــې، خـــو تشبيهـــ د پـــاره وايـــم
جفاګـــانې دې ازغـــي دي، ســـتا مثـــال د يـــو ګـــلاب دے [xvi]

او دا ځکه چې سليم د حسن پرستار ؤ په حسن ئې زړهٔ بائللے ؤ. څنګه چې په مغربي شاعرانو کښې کيټس او شيلے د حسن پرستۍ سرخېلان ګڼلے شي او بيا په کښې کيټس داسې حسن پرست ؤ چې بې له حسنه ئې بل مذهب نهٔ منلو. حسن د هغهٔ دين او ايمان ؤ دغه رنګ سليم هم حسن پرست ؤ. شاعران خو وي حسن پرست. سيد رسول رسا په دې حقله ليکي

" شاعر پېدائشي حسن پرست وي او په حسين څيزونو مئين وي. هغهٔ د بلبل زړهٔ ځان سره د ازل نه راوړے وي. هر ګل ته چې ګوري نو د هغهٔ لطيف عاشقانه جذبات رالړزېږي او د دې رالړزېدلي جذباتوشاعرانه اظهار کوي. حسن د کائنات په رګ و رېشه کښې چارچاپېره پرېشان او منشور پروت دے. د شاعرحسن بينې سترګې لکه د مقناطيس د منتشير حسن ذرات راټولوي او دې حسينو ذراتو ته ترتيب ورکوي. دا منظوم کوي او لکه د ملغلرو د هار ئې په شاعرانه الفاظو کښې پېري." [xvii]

سليم هم په دغه قِسمه حسن پرستو کښې شمېرلے کېږي لکه چې هغهٔ پخپله دغه دعوه کوي چې:

پرســـتار يمـــه د حســـن چـــې هـــر څـــهٔ را احســـاس شـــي
کـــه رخســـار وي د ګلرخـــو کـــه نغمـــه کښـــې وي کـــه ســـاز کښـــې [xviii]

او بل شعر کښې څهٔ دا رنګ وائي:

دا کېـــــدے شـــــي چـــــې د حســـــن پرســـــتار وي
دا دروغ دي چـــــې " ســـــليم صـــــاحب" عيـــــاش دے [xix]

د سليم پـه رومـانوي شـاعرۍ کښـې خونـد او مـزه هغـه وخت سـېوا شي کلـه چـې هغـهٔ د رنـد، سـاقي، مېخانې، جام، ملا، شيخ، صياد، رقيب، زاهد، واعظ، قاضي او ناصح ذکر کوي. که يو طرفتـه دغـه

مضامین د شاعرۍ خوند او رنګ زیاتوي نو بل طرفته د دغه قِسمه کردارونو د پټو رازونو نه پرده هم اوچتېږي چې زمونږ د روزمره ژوند سره نۀ شلېدونکې رشته لري ـ سلیم د دغه مضامینو نه ښۀ کار اخستے دے او د خپل کلام ښه سترګه ئې پرې ښائسته کړې ده لکه چې د واعظ، ناصح او قاضي مضمون بیانوي:

د واعـــــظ کـــــره ژړا ده، د ناصـــــح پـــــه خونـــــه غـــــم دے
چـــې "ســـلیم" صـــنم پرســـت دے خو"ســـلیم" ئـــې هـــم صـــنم دے
د قاضـــــي بـــــاره کښــــې خلــــق د دې کلــــي داســــې وائــــي
چـــې ضـــمیر ئـــې پـــه دینـــار دے نـــو مســـند ئـــې پـــه درهـــم دے[xx]

دغه رنګ د شېخ، امام او خطیب پېژند ګلو په دې ټکو کوي چې:

دا چــې رقــص ورتــه کېــږي، دا نشــه کښــې چــې پراتــۀ دي
یــو د بــر کلــي امــام دے، بــل د کــوز کلــي خطیــب دے
داســې ښــکاري مــاه جبینــې، مــا بــه شــېخ تــه مختــورن کــړې
ستــا پــه غېــږه کښــې مینــا ده، ستــا پــه سترګو کښــې ترغیــب دے[xxi]

هم په دغه تناظر کښې جام، ساقي، مېکده او رقیب د شعر په ژبه مجسّم عکس جوړوي چې:

کلـــــه نـــــه کلـــــه ســـــت د جـــــام کـــــوه
پـــــه تـــــا مئـــــین یـــــم پـــــه مـــــا پـــــام کـــــوه
د رقیـــــب مخکښـــــې راتـــــه مـــــه وایـــــه ښـــــۀ
بـــــس زمـــــا دومـــــره احتـــــرام کـــــوه
راغلـــــے یـــــم زۀ مېکـــــدې تـــــه نـــــوے
ســـــاقي لـــــږ مـــــا ســـــره ناکـــــام کـــــوه[xxii]

سلیم د حسن او ښکلا شاعر ؤ او رومانیت خو پېدا کېږي هم د حسن او ښکلا نه لکه چې ډاکټر مصري خان ورته ګوته نیسي ـ

"د رومانویت تعلق د حسن و ښکلا سره دومره جوخت، ژور او کلک دے ځومره چې د ګل د خوشبو سره، د نمر د رڼا سره او د رنګونو د بوډۍ ټال سره دے چې چرته حسن و ښکلا وي هلته به رومانیت ضرور وي ـ"[xxiii]

سلیم په خپله رومانوي شاعرۍ کښې یوازې د فطرت عکاسي، د چمن رنګیني، د آباسین شوخي، د رندانو مستي، د شېخانو شېخي، د خطیبانو، واعظانو، ناصحانو خطبې، وعظونه او نصیحتونه بیان کړې دي بلکې خود پسندي، د محبوب بې رخي، هجر و وصال، غم و فراق او د محبوب د اندامونو ستائنه ئې هم کړې ده لکه چې د ځان په حقله وائي:

ښاپېرے که نۀ د چین نۀ د ماچین یم
خو د ډېرو نازپرورو نازنین یم
د مغلو په رمو کښې امزرے یم
پښتنو ته د پیشو نه هم مسکین یم
په سخت والي د خیبر بېره تیګه
په پوستوالي د رېښمو نه مهین یم [xxiv]

بل شعر کښې وائي:

تۀ که نازولې نازپروره یې
زۀ هم نازولے نازپروره یم [xxv]

سلیم د محبوب اندامونه هم په بېلا بېلو طریقو ستائلي دي. دغه مضامین د عشقیه او رومانوي شاعرۍ موضوعات دي چې تقریباً د هر شاعر په کلام کښې موجود وي ولې سلیم فطرتي رومانوي شاعر ؤ د هغۀ د ستائلو انداز ډېر زړۀ راښکون لري، چې په زړۀ او دماغو سمدستي اثر پرېباسي لکه چې د ګورو زلفو، تورو سترګو او شنۀ خالونه او د خپل زړۀ حالات بیانوي چې:

ګورې زلفې، تورې سترګې، شنۀ خالونه
لېونے به مې کړي ګلې دا ښیزونه [xxvi]

دغه شان د نظرغشي او د سترګو کاسې داسې په حسن اپرین انداز کښې بیانوي چې:

د نظر په غشیو وولـه، زما زړۀ دې نښانه ده
د خلوص او مینې ډکه، دا حقیره نظرانه ده

ستا د سترګو د کاسو نه، مقدسې نشې څاخي
شرمنده ورته شراب دي او سر ښکته مېخانه ده [xxvii]

سلیم که یو پلۆ د محبوب د اندامونه په رنګ رنګ طریقو بیان کړي دي نو بل اړخ ته ئي د دغه محبوب د لاسه په زړۀ هم پولۍ ولاړې دي۔ د محبوب درد و غم، جفا، مکر و فرېب، هجر و فراق او انتظار هم ښۀ ژړولے دے۔ لکه چې خپل محبوب ته د شعر په ژبه مخاطب کېږي:

غلــــې غلــــې چــــې رقیــــب تــــه اشــــارې کــــړې
زۀ دې وینمــــــه زمــــــا خــــو درتــــــه پــــام دے
ستا پــــه مینــــه کښــــې مــــې هــــر تهمــــت قبــــول دے
تــــۀ چــــې وائــــې بــــې وفــــا یــــې دا الــــزام دے
د زړۀ وینــــې ســــتا غمونــــه ډېــــر فکرونــــه
میسّــــر راتــــه قفــــس کښــــې هــــر طعــــام دے [xxviii]

د عشق غم د هر غم نه لوي وي۔ هیڅ غم هم د عشق برابر نۀ وي۔ دا یو داسې دریاب وي چې ساحل نۀ لري۔ څوک چې د عشق تندې اخستے وي بیا د هغۀ تنده هیڅ هم نۀ شي سړولے۔ په دې مېدان کښې د هجران سوې لمبې دي۔ دلته جدایي د دوزخ د عذاب په رنګ وي۔ دغه حالات ټول د سلیم په شاعرۍ کښې ترسترګو کېږي لکه چې وائي:

دومــــره تــــېرے دې بېلتــــون کښــــې د دیــــدن ووم
لکــــه میاشــــت چــــې د روژې وه پشــــکال ؤ
ډېــــر سرکشــــه ښــــتانۀ ئــــې اســــیران کــــړل
د مغلــــو زلفــــو څــــۀ طلســــمي جــــال ؤ
د دوزخ عــــذاب نــــور څــــۀ وي خــــو واعظــــه
تــــا ورکــــړے بــــه زمــــا د ژونــــد مثــــال ؤ [xxix]

سلیم په شاعرۍ کښې د رومانویت ټول لوازمات په ډېره ښۀ پیرایه کښې بیان شوي دي۔ رومانیت د ژوند سره تړلې یوه رویه ده، چې دواړه نۀ شلېدونکې رشته لري۔سلیم د ژوند په هر اړخ قلم پورته کړے دے۔ په بنیادي توګه هغه ترقي پسند شاعر ؤ ولې دا د هغۀ فنکارانه کمال ؤ چې دغه نظریه ئي هم په داسې حسن افرین او رومانوي انداز کښې وړاندې کړې ده۔ چې په غېر محسوسه طریقه ذهنونه سماجي بدلون او نوي ژوندون ته اماده کوي۔ د هغه په شاعرۍ کښې د جمهوري اقدارو خیال ساتلے شوے دے۔ د هغه د جمهوریت پسندۍ انداز هم بې مثال دے لکه چې وائي:

د منــــزل پــــه تعــــین کښــــې رهبرانــــو!
قــــافلې تــــه هــــم څــــۀ حــــق د فیصــــلې شــــته [xxx]

او بل شعر کښې وائي:

قافلــــه دې هـــــم منـــــزل نـــــه ځــــان خبــــر کـــــړي
کلـــــه کلــــه رهنمــــا نـــــه لاړ خطـــــا شــــــي xxxi

غرض دا چې سلیم یو باشعوره، حساس او د خپل وخت یو زبردست نباض شاعر ؤ ـ هغۀ چې څۀ محسوس کړي دي یا ئې په معاشره کښې څۀ لیدلي دي هم هغۀ ئې د شعر په جامه کښې په اخلاص سره اولس ته وړاندې کړي دي ـ که په ځان کښې ئې کوم کمے دے په هغۀ ئې پرده نۀ ده اچولې بلکې په ډاګه ئې بې د څۀ وېرې ترحې بیان کړي دي د معاشرې د عامو خرابیانو، بې انصافئ، زورګیرئ او خود غرضئ اظهار ئې هم کړے دے ـ د یو دیانتدار لیکونکي په حېث هغۀ چرته هم د حقائقو د پټولو کوشش نۀ دے کړے ـ یو خوا که سلیم د خپل محبوب حسن او د هجر و فراق لمبو سوے ؤ نو بل خوا ئې د خپل اولس او سیمې غم هم پک سر اخستے ؤ ـ سلیم د حسن برستار، د عشق شارح، د وخت نباض او په صحیح معنو کښې د رومانوي شاعرئ استاذ شاعر ؤ چې په جدید دور کښې ورته اعلي مقام حاصل شوے دے ـ

# References

i: Muhammad sadiq rohi,adabi seranay,danish khparandoya tolana,Pekhawar,p1386

[ii] : Dr - Syed Abdullah,mubahis,zarin art press,Lahore,1st Edt,Febuary 1965,P392
[iii] : Khwaja Muhammad Sail,Romanwyat aw Abdul Hamid baba,Sep 1994,p75
[iv] : da wro wro khudayano de banda kram,salim ,saifurahman,university publishers,afghan market,qesa khwani bazar,pekhawar,chap awal,march 2008,p 189
[v] Hum dagha p 40
[vi] hum dagha p159
[vii] hum dagha p 123
[viii] hum dagha p 200
[ix] hum dagha p74
[x] hum dagha p 63
[xi] hum dagha p 203
[xii] hum dagha p 129
[xiii] hum dagha p 57
[xiv] hum dagha p 104
[xv] hum dagha p 29
[xvi] Hum dagha p 31
[xvii] syed rasool rasa, adabi tanqid,manzoor e aam press, peshwar,p 60

[xviii] Da wro wro khudayano de banda kram,saifur rahman saleem,p 180
[xix] Hum dagha p 194
[xx] hum dagha p 81
[xxi] hum dagha p 74
[xxii] hum dagha p 25
[xxiii] tatara,hamid number,abdulhamid baba yaw romani shair,dr - misry khan,pakhto adabi board,pekhawar,july December p 191

[xxiv] Da wro wro khudayano de banda kram,saifur rahman saleem,p 57
[xxv] hum Dagha p 46
[xxvi] hum Dagha 204
[xxvii] Hum Dagha p 208
[xxviii] Hum Dagha p 50,51
[xxix] Hum Dagha p 79
[xxx] Hum Dagha p 34
[xxxi] Hum Dagha p 137